مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۹/۰۷

# دا نـاکـامي شـوه که بری شو پیره!؟

## غـزل

تـا خـو ویـلي چي سپرلی شـو پـیـره!
دا خو مي ګډ پـه باغ زېړی شو پیـره!

لکـه بـمـونـه پـه سـیـنـو کي ډک دي
نـور پـه چاودلـو هـر زړګی شـو پیره!

فکرونه وران شول تعمیرونه جوړ شول
دا آبـادي شـوه کـه ورانـی شـو پیـره!؟

د ایمان ساه بـاسـي داعـي د ایمـان
مومن سـوالګر بـادار پـردی شو پیره!

ګېډې نهـرې پښې لـوڅی افـغـان
مات يي په پونده کي اغزی شو پیره!

تیاره مـي ذهـن نـه رڼـا راشـکـوي
دا نـاکـامي شـوه که بری شو پیره!؟

د روڼ شعـور د جـنـازې اعلان دی
بـاور لـه غـمـه لـېـونـی شـو پیره!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ